سميع الدين افغاني ۲۰۱۸/۰۹/۰٤

# ورځ تر بله

ورځ تـر بلـه خـرابـيـږي دا وطن

په نفاق کې نه جوړيـږي دا وطن

د بې رحمه او مکار دښمن د لاسه

هره خوا په اور سوزيږي دا وطن

په قومونو او خيلونو يـو بيل شوی

جنګ، جګړو سره ورانيږي دا وطن

د دالـرو او کالـدارو په حساب کـې

په پــردو بانـدې خرڅيږي دا وطن

په هر لوري بې وسي ده مايوسي ده

تول پـه ويـنـو کې لمبيږي دا وطن

دوطن ټوله هستي يې رانه لوټ کړه

کار زحمت باندې جوړيږي دا وطن

لا ترڅو به مونږ په خپلو کې جنګيږو

ځان، ځاني کې تباه کيـږي دا وطن

افغاني مينه، احساس که مو نصيب شي

سر منزل ته به رسـيـږی دا وطن



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com